نوید احمد بارکزی ٤/١١/٢٠١٨

# د افغانستان د خبریالانو مرکز

د افغانستان د خبریالانو مرکز د مجازاتو فرهنګ پر پای ته رسولو د ټینګار ترڅنګ وايي چې د خبریالانو د ۹۵ سلنې وژنو عاملین له مجازاتو معاف دي.

په افغانستان کې د وروستیو دوو لسیزو په موده کې، څه باندې ۱۰۰ خبریالان او د رسنیو کارکوونکي وژل شوي دي؛ خو د افغانستان د خبریالانو مرکز ښيي چې له یاد شمېر څخه یوازې د پنځو قضیو عاملان د محکمې د حکم له مخې مجازات شوي دي.

د افغانستان د خبریالانو مرکز د خبریالانو پر وړاندې له جرمونو د معافیت فرهنګ پای ته رسولو نړیوالې ورځې په مناسبت خبرپاڼه خپره کړې چې کاږي، له ۱۳۷۳ څخه تر ۱۳۹۷ کال پورې، ۱۰۴ خبریالان او د رسنیو کارکوونکي په افغانستان کې وژل شوي چې ۱۵ يې ښځینه کارکونکي دي. پر دې سربېره په دې موده کې دوه افغان خبریالان په پاکستان کې هم وژل شوي دي.

څلور کاله وړاندې د ملګرو ملتونو سازمان غړو هېوادونو په نړۍ کې د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي په غبرګون کې د پرېکړه لیک په خپرولو سره د نومبر ۲مه (د لړم ۱۱مه) د خبریالانو پر وړاندې مجرمینو ته د مجازاتو معافیت فرهنګ د پای ته رسولو ورځې په نوم ونوموله.

د یاد مرکز په اعلامیه کې راغلي چې ټولټال ۸۶ افغان خبریالان او د رسنیو کارکوونکي د کار په جریان کې وژل شوي دي.

د دې بنسټ د موندنو پر اساس، یاد پرېکړه لیک کې د ملګرو ملتونو سازمان له غړو هېوادونو څخه غوښتنه شوې چې د خبریالانو د امنیت او خوندیتوب په برخه کې په جدي ډول لاس په کار شي.

یاد بنسټ د خبریالانو د وژنو لړۍ له ۱۳۷۳ کال راهیسي خپره کړې ده.

میرویس جلیل، د بي بي سي خبریال؛ لومړنی خبریال و چې ۱۳۷۳ کال کې له جهادي مشر ګلبدین حکمتیار سره تر مرکې وروسته، له چهاراسیاب ولسوالۍ څخه کابل ته د ستنېدو پرمهال، ووژل شو او څلور کاله وروسته، طالبانو پر مزار ښار تر ولکې ټینګولو وروسته، محمود صارمي د ایران اړوند ایرنا خبري اژانس خبریال د یاد هېواد له څینو دیپلوماتانو سره ووژه.

د ۱۳۸۰ کال په وروستیو کې پر افغانستان د امریکا په مشرۍ د ایتلافي ځواکونو د برید له پیل څخه او د ازادو رسنیو شمېر په زیاتېدو سره، د رسنیو ټولنې د قربانیانو شمېر ورځې تر بلې د پام وړ لوړ شو.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

مارک برانرئو، جوهان ساټون، پیربیلاد، ولکر هندلوئیک، هري برټون، عزیزالله حیدري، ماریا ګارسیا کتولي، جولیو فیونتز، اولف استرامبرګ، شیما رضایی، میوند، عبدالقدوس، کریستین استرو، کارن فیشر، انور صالح، رحمان قل، سیدآقا، اجمل نقشبندي، شکیبا څانګه اماج، ذکیه ذکي، عبدالمنیر، کارستن توماسن، عبدالصمد روحاني، جاوید احمد یازمي، سلطان محمد منادي، جان الله هاشمي، میشل لانګ، روپرټ همر، جیمزهانتر، سید حامد نوري، محمد رفیق عزیزي، امید خپلواک، فرهاد تقدسي، جعفر وفا، سادم خان بهادور زوی، عبدالهادي همدرد، دنیا ذاکري، مزمل صادقي، محسن هاشمي، نوراحمد نوري، شاهد نعیمي، نیلز هورنر، احمد سردار، آنیا نیدرینګهاس، خالد اګاه یعقوبي، پلوشه توخي، زبیر حاتمي، عاقل محمد وقار، ذبیح الله پشتون یار، امان الله عطایي، علي محمدي، حسین امیري، جواد حسیني، محمد حسین، مهري عزیزي، مریم ابراهیمي، زینب میرزایي، زبیر خاکسار، یعقوب شرافت، دیوید ګیلکي، ذبیح الله تمنا، نعمت الله زهیر، نصیر مدثر، نورالله، فریده، عبداللطیف، محمد امیر، عبدالغني، زین الله، حبیب الله حسین زاده، محمد نذیر، عزیز نوین، عمر ارغندیوال، عبدالحمید رمضاني، حسین علي نظري، نقیب الله عبدالرحیم زی، غلام رضا بیګ، سید خادم حسین هاشمي، عبدالرؤف مهدوي، سید خداداد احمدي، سید عندلیب ضیایي، سید حسین حسني، محمد رضا بهرامي، خلیل رضایي، حیدر نظري، سید مهدي موسوي، عبدالمنان ارغند، شاه مری فیضي، یارمحمد توخي، غازي رسولي، نوروزعلي خموش، عبدالله حنان زی، محرم درانی، سباوون کاکړ، علي سلیمي، سلیم تلاش، احمدشاه، محمد اختر، عطاء الله رحیمي وسیع، صمیم فرامرز، رامز احمدي او محمد سلیم انګار؛ د رسنیو خبریالان او نور کارکوونکي دي چې د طالبانو رژیم د نسکورېدو پرمهال او له هغه څخه وروسته وژل شوي دي.

د افغانستان خبریالانو مرکز د معلوماتو له مخې، طالبان د ۴۱ خبریالانو، داعش د ۳۴، غیرمسؤولي وسلوالي ډلي او کسان د ۲۲، ناټو ځواکونه د درې خبریالانو، د کورنی غړي او دوستان د درېیو او افغان ملي پولیس هم د یوه خبریال په وژنه کي ښکمن او یا تورن شوي دي.

د دې مرکز موندني ښیي چې په تېرو نږدې دوو کلونو کي د خبریالانو د امنیت او خوندیتوب په برخه کي د حکومت او رسنیو ګډې کمېټې په جوړېدو سره د دې کمېټې د حکومتي غړو بنسټونو له لوري هڅې شوي دي؛ خو له بده مرغه لیدل کېږي سربېره پر دې چې دا هڅې او اقدامات د پام وړ وو، خو په ځانګړې توګه د خبریالانو پر وړاندې د جرایمو مجازاتو د معافیت فرهنګ د پای ته رسولو په برخه کي ښکاره پایله نه لري.

په اعلامیه کي د لویې څارنوالی ویاند جمشېد رسولي له خولي ویل شوي چې دا اداره هوډ لري چې د خبریالانو او رسنیو کارکوونکو پر وړاندې جرایمو ته رسېدنه وشي او تېر کال یې ۴۹ قضیې څېړلي دي.

د لویې څارنوالی له لوري د څېړو شوو شمېرو پربنسټ؛ په دې موده کي د راډیو بیان کارکوونکي پلوشي توخي یو قاتل په اعدام، د ملي تلویزیون ویاند حامد نوري د وژني څلور عاملین (یو یې په اعدام، دوه تنه یې په شل شل کاله بند او بل یې په ۱۱ کاله حبس)، د شمشاد تلویزیون کارمندې شکیبا څانګي اماج د وژني په تور دوه کسان چې یو یې په یو کال تنفیذي بند او بل یې په ۱۶ کاله بند محکوم شوی دی، د اسیا تلویزیون مشر امان الله عطایي د وژني په تړاو دوه کسان چې یو په ۱۹ کاله او شپږ میاشتي او بل یې په لس کاله او شپږ میاشتي حبس محکوم شوي دي او دا مهال عملاً په بند کي دي. که څه هم د دې ادارې په وینا، په دې برخه کي صادر شوي احکام تر دېره نهایي نه دي.

د لویي څارنوالۍ ویاند ویلي چې د صدای نجراب راډیو تخنیکي کارکوونکي محمد محسن هاشمي د وژنې په تړاو دوه تورن د استیناف محکمې له لوري د ۱۶ کلونو په بند محکوم شوي دي؛ خو پولیس تراوسه د تورنو کسانو په نیولو بریالي شوي نه دي.

د افغانستان د خبریالانو مرکز اجرایوي مشر احمد قریشي ویلي: (له بده مرغه د خبریالانو امنیت او خوندیتوب ګډې کمېټې له لوري پر شوو هڅو سربېره، د کورنیو چارو وزارت او ملي امنیت ریاست په دې برخه کې نه دي توانېدلي چې د خبریالانو او رسنیو کارکوونکو د وژنې د دوسیو په تړاو په سمه توګه عمل وکړي او پاتې راغلي دي او ان ناتو ځواکونه چې په ځینو مواردو کې د خبریالانو په وژنه تورن دي، همکاري یې نه ده کړې.)
نوموړي زیاته کړې: (افغانستان د رسنیو ډګر اړوند برخه کې ښه پرمختګ کړی دی او مهمو لوړ پوړو حکومتي چارواکو مدام له خبریالانو او ازادو رسنیو څخه د دفاع په برخه کې د خپلې سیاسي ژمنې په اړه خبري کړې دي؛ خو له بده مرغه په عمل کې عملي ګامونه نه دي اخیستل شوي او اړینه ده چې د خبریالانو پر وړاندې د جرمونو مجازاتو معافیت ته د پای ټکی کېښودل شي.)
د قریشي په وینا، په افغانستان کې د خبریالانو پر وړاندې د جرمونو مجازاتو معافیت فرهنګ د رسنیو ټولنې ته د منلو وړ نه دی او د دې بهیر دوام د خبریالانو او رسنیو مسلکي فعالیت ته جدي زیان اړوي.
په وروستیو کلونو کې د خبریالانو او رسنیو کارمندانو د قربانیانو عدالت غوښتنې بهیر له خبریالانو نه د ملاتړ بنسټونو له لوري په جدي ډول تعقیب شوی دی، تېر کال د افغانستان خبریالانو مرکز د ۱۵۰ خبریالانو په لاسلیک له ولسمشر او اجرایي رییس څخه د یوه پرانسیټي لیک په ترڅ کې د خبریالانو او رسنیو کارکوونکو پر وړاندې له مجازاتو د معافیت فرهنګ نه پای ته رسولو د ناوړه پایلو په تړاو د ګواښ ترڅنګ غوښتنه کړې وه چې د وژل شوو خبریالانو او رسنیو کارکوونکو د وژنې د دوسیو څېړنه دې په خپل کاري لومړیتوبونو کې ځای پرځای کړي او هېواد کې له مجازاتو د معافیت فرهنګ ته دې د پای ټکی کېږدي.

پای